مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی

۲۰۲۶ / ۱۰ / ۳۱

دا څو اوښکي ، د هغې لپاره

د سترګو له نم څخه راولاړې شوې وړې وړې قطرې چې کله د بنو له غشو تېرېږي، لومړی یوه شېبه تم شي بیا ورو ورو د مخ پر کاسې راتوئ شي، ترڅو خپل پټ درد څرګند کړي. دلته هر څاڅکی یوه کیسه لري؛ داسې کیسه چې ښایي ژبه یې د ویلو توان ونه لري. بیا چې د ګریوان له تارونو سره د ګیلو مانو مزي وتړي، نو د خپلو چوپو سلګیو ټول نا ویلي رازونه ورسره شریک کړي.

ډېر ځلي، اوښکي د غم، حسرت، پښېمانۍ، بېوسۍ او نامراده هیلو استازیتوب کوي؛ خو کله نا کله د خوښۍ، وصال او بریا پېغامونه او سوغاتونه هم ور سره وي. ځینې اوښکي د چا د تللو لپاره وي، ځینې د چا د نه راتلو په خاطر او ځینې د هغو خوبونو لپاره څڅېږي چې انسان یې کلونه کلونه انتظار باسي، خو ژوند یې د پوره کېدو فرصت ورنه کړي.

د مور په سترګو کې اوښکې بیا جلا بیه لري. هر څاڅکی یې د یوې دعا، د یوې شوګیرې، د یوې پټې قربانۍ او د اولاد لپاره د زرګونو اندېښنو تابلو ګانې وي. د مور د سترګو یوه اوښکه د کوه نور له الماسو هم قیمتي وي؛ ځکه الماس یوازې ځلېږي خو د مور اوښکه د مینې او ازمېښت له نغرې راوتلې وي او د سکروټو خوړلن یې تر شا پرېښې وي.

مګر دلته څو پوښتنې داسې دي چې د هر باشعوره انسان د وجدان پر تندي ټالۍ وهي: مور ولې د نورو له کړاو څخه خوند اخلو؟ ولې د یو انسان د اوښکو نندارې راته د تماشا په څېر ښکاري؟ ولې د یو بېوزله یتیم لوڅې پښې، د یوې کونډې محرومیت او د یو سپین ږیرې رپېدلي لاسونه زمور د وجدان دروازې نه راټکوي؟ آیا زمور انساني شعور دومره ستړی شوی چې د بل چا درد، درد نه ګڼي؟

ښایي زمور د احساساتو پر هندارې د بې پروایۍ دومره دوړې پرتې وي چې د اوښکو انعکاس په کې نه ښکاري. ډېر څه وینو، خو لږ څه احساسوو؛ ډېرې خبرې اورو، خو د زړه غږ لږ اورو. د بل چا د لوړې، یوازیتوب او بېوسۍ پر وړاندې مو احساس په مزه مزه دومره مړاوی شوی چې آن د یو انسان اوښکه هم راته عادي ښکاري. خو اوښکې عادي څاڅکي نه دي. ځینې اوښکې د غُربت نښه وي، ځینې د ماتې شوې ارادې او ځینې د غیرت بڅرکي وي. کله چې د مظلوم له سترګو اوښکه راووځي، دا مازې د بېکسۍ اوبه نه وي، بلکې هغه د خاموش احتجاج یوه ناره وي چې غږ نه لري؛ ولی که وجدان ژوندی وي، نو انګازې یې زړونه لړزوي.

د یو ماشوم اوښکه د لوړې کیسه کېدای شي؛ د یوې مور اوښکه د قربانۍ او د یو پلار اوښکه به د بې وسۍ سمبول وي؛ البته د وطن اوښکې د نسلونو د زخمونو تاریخ وي. ځینې اوښکې پرمخ تویېږي او د انسان پر وجدان داغ پرېږدي. انسان بیا هغه وخت رښتینی انسان پاتې کېږي چې د بل اوښکه یې پر زړه ولګېږي؛ ټکان یې څو چنده تېز شي او لاس یې د مرستې لپاره وغځېږي. ممکن د انسانیت وروستنی څرک یې همدا یوه اوښکه وي؛ هغه اوښکه چې لا یې زمور د زړه په تیارو کې رڼا ژوندۍ ساتلې ده.

په یوې تلویزیوني ډرامې کې، یو سپین ږیرې د خپلو اولادونو لپاره ډېرې خواږې ګالي، خو یوه لور یې تر ټولو خپله لاره بېلوي او د پلار دا هرڅه ورته یوه شش پولۍ ارزښت نه لري. ستومانه پلار د

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

يوې کوڅې په آخر کې د يو ړنګ دېوال چنې ته کښېنې، په چغو چغو ژاړي او سر په زنګون ږدي. ناڅاپه، يو تن دوست يې راځي ورته وايي: اشنا خبر خو دی؟ بوډا په ژړغوني غږ ځواب ورکوي: « نور څه نه لرم چې هغې ته يې ورکړم؛ ډېر څه مې وکړل خو زما په قدر پوهه نه شوه. اوس راته همدا څو اوښکې پاتې دي، پرېږده چې د هغې په خاطر يې تويې کړم، ګوندې يوه ورځ به زما ارمان ورشي چې پلار څه ته وايي او د اوښکو بيه څه ده ؟».
الله مې دې زاړه ايمان ته خبر کړي!



د ليکوال نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولـئ